شتمني
SHTAMANI
اوونيزه
تأسيس: ۱۳۹۴ل ل
زموږ ماليه، زموږ هيواد، زموږ راتلونکی

د افغانستان اسلامي امارت

د مالیې وزارت

د صفر المظفر ۲۲-۱۴۴۷ل س | د زمري ۲۵-۱۴۰۴ل ل | د اګسټ ۱۶-۲۰۲۵ز | پنځم کال | ۱۴۷ ګڼه | ٤ مخيزه



**د صفري په مياشت کي هيڅ بدفالي نسته**

**له ابي هريرة رضى الله تعالى عنه څخه روايت دئ، چي رسوالله صلى الله عليه وسلم وفرمايل:**

(د الله تعالى له امره پرته) د يوه کس ناروغي بل کس ته (پخپله) د پيښېدلو (عقيده)، د صفري په مياشت کي (د نحوست عقيده) او د يوه خاص مرغه د بد فالی (عقيده) ټولي بې بنسته خبري دي.

[صحيح البخاري،کتابُ الطِّب،بابُ الهامة، رقم الحديث: ۵۷۷۰]

(د ماليې وزارت د دعوت او ارشاد رياست، له لوري)

## سرمقاله

### د خپلواکۍ څلورو کلونو مالیې وزارت ته څه راوړل؟

د اسلامي امارت د خپلواکۍ څلورمه کليزه دي ټول ملت ته مبارک وي!

د خپلواکۍ کلمه زموږ د هيواد د سربښندونکي نسل د کړاوونو ګاللو، سر سختي مبارزې، سرونو نذرانه کولو او وينو تويولو د شل کلن داستان کيسه ده. دا تصادف نه دئ؛ بلکي د خپل ژوند له وربښميني دايرې راوتل دي او د يوه تلپاتي انقلاب له پاره د خپل سکون په بدل کي خپلو خلکو ته د هوسا او په اسلامي روحيه پوښلي بستر غوړول دي. موږ د سياسي خپلواکۍ ترڅنګ مالي خپلواکي هم خپله کړې ده. په لومړي سر کي ماليې وزارت د بهرنۍ پاليسۍ په جوړولو، د بهرنيو مرستو همغږي کولو او سترو پروژو د پلي کولو او پلان جوړولو په برخه کي له مرستندويانو او نړيوال بانک، اسيا پراختيايي بانک او نورو معتبرو ادارو سره ښه همغږي کړې ده. موږ په دې څلورکلن مزل کي د ماليې وزارت له ادرسه له سوداګرو، کورنيو او بهرنيو پانګوالو، دوکاندارانو، ماليه ورکوونکو او کوچنيو کاروباريانو سره خپلي اړيکي پياوړي کړي او همغږي مو زياته کړې، همدا رنګه کوچنيو اصنافو او دوکاندارانو ته مالياتي تخفيف وکړل سوی د دې تر څنګ د مالياتو راټولو له پاره مو نوي ادرسونه او عوايدي سرچيني مونډلي، مالياتو راټولولو ته مو شفافيت ورکړی، عوايد مو زيات کړي، د مالياتو د ټېښتي مخه مو نيولي، د ملي بوديجې د خپلواکۍ ترڅنګ مو هغه په عادي او پراختيايي برخو کي ښه تطبيق کړې، د عوايدو د ترلاسه کولو سيسټمونه مو اسانه او آن د ګمرکونو کاري موده مو شپاړس ساعتونو ته اوږده کړې. موږ په دې څلور کلنه موده کي برېښنايي حکومتولۍ ته ډېر نږدې سوي يو، ګمرکونه مو په نړيوال معيار، عصري او په پرمختللو وسايلو، تلو او ټکنالوژۍ سمبال کړي. د هيواد ګڼ شمېر ګمرکونه په امنيتي کېمرو پوښل سوي او له مرکز سره وصل سوي، ماليې وزارت په اکثريت سترو او کوچنيو ګمرکونو کي هنګرونه، د موټرو تمځايونه، عصري جوماتونه، ليليې، حفاظتي ټاورونه او سايوانونه جوړ کړي او برېښنايي سيسټم ئې له ماشيني څخه لمريزي ته اړولی. په يو شمېر ګمرکونو کي د سوداګرو د تازه مېوو او ترکاريو له پاره سړې خوني هم جوړې سوي او نور هغه څه، چي د سوداګرو د مالونو اسانه کښته پورته کولو او ساتلو سبب ګرځي چمتو او پلي کړي. ماليې وزارت په دې څلورو کلونو کي په سلګونو زره ټنه غير قانوني، قاچاقي، بې کيفيته او تر وخت تېر خوراکي او غير خوراکي توکي تعقيب، کشف او نيولي دي، چي تورن کسان هم ورسره او د خپلو اعمالو په جزا رسېدلي. ماليې وزارت په ګمرکونو کي زرګونه ټنه بې کيفيته انساني او غير انساني درمل نيولي او هغه ئې له اړوندو ادارو سره په همغږۍ له منځه وړي. دغه وزارت په تېرو څلورو کلونو کي په سلګونو ټانکره نفتي مواد د اړوندي ادارې په همغږۍ مسترد کړي. ماليې وزارت په دغه موده کي له هيواد څخه بهر ايستونکو د سلګونو قيمتي ډبرو، لرغونو اثارو او نورو با ارزښته توکو مخه نيولې. د ګمرکونو مسئولينو په دې موده کي په زياته اندازه چاودېدونکي توکي او وسلې، چي هيواد ته په پټه را وړل کېدل نيولي او اړوندو ادارو ته ئې سپارلي دي. ماليې وزارت له اداري فساد سره کلکه مبارزه کړې، د ګمرکونو او مستوفيتونو په زرګونو نوي ګومارل سوي کارکوونکي ئې روزنيزو پروګرامو ته ور معرفي کړي او هغوی ته ئې په مربوطه برخو کي د مسلکي ښوونکو او روزونکو په مټ روزنه ورکړې، د وزارت موټرونه د تېلو د سپما په موخه تر ډېره بريده (جي پي اس) سوي، په دفاترو کي د تجملي توکو د راوړلو مخنيوی سوی، چي ميليونونه افغانۍ ئې سپما کړي. د ګمرکونو د ساتني او څانګړو عملياتو لسګونه امنيتي سرتېري روزل سوي فارغ سوي او په بېلابېلو ګمرکونو او مرکز کي په دندو ګومارل سوي. په پای کي بايد ووايوو، چي د ماليې وزارت رهبري ژمنه ده، چي په راتلونکو کلونو کي په دې ټولو برخو کي تر بلي هري ورځي مخکښ، ژمن او په بېړه اجراء کوونکي و اوسي.

يادونه: د ټولو مواردو ارقام ذکر کول مو اړين ونه بلل څکه زموږ په ټولو ټولنيزو پاڼو کي په څلونو خپاره سوي دي.

درنښت

اداره

## د افغانستان لاس بې اسناده موټرونو د ثبت او محصول پروسه تمدید سوه



د ماليې وزارت په وړانديز او د ا.ا.ا د رياست الوزراء عالي مقام په منظورۍ د افغانستان لاس د بې اسنادو (يوکيلي) موټرونو د ثبت او محصول پروسه د سته کړنلارې له مخي د (۱۴۰۴هـ.ل) کال تر پايه تمديد سوه. ياده پروسه د هيواد په اوو زونونو (کابل، هرات، بلخ، ننګرهار، کندهار، کندوز او خوست/پکتيا) کي پيل او په نورمال ډول روانه ده. د يو کيلي موټرونو د ثبت او محصول په سته کړنلاره کي د خلکو اقتصادي حالات په پام کي نيول سوي او پر داسي لارو چارو فکر سوی، چي د بې اسناده موټرونو مالکين وکولای سي، خپلو موټرونو ته اسناد واخلي. د بې اسناده موټرونو په محصول کي په لاندي ډول تخفيف ورکړل سوی دئ: له (۱۹۹۰) څخه تر (۲۰۰۴) ماډل موټرونو ته په قيمت کي (۳۰ سلنه) تخفيف ورکړل سوی (د حکم له صادرېدو څخه تر شپږو مياشتو پوري) او له هغې وروسته طی مراحلو کي تخفيف نه ورکول کېږي. له (۲۰۰۵) څخه د کال تر ماډل (۲۰۲۵) پوري موټرونو ته په قيمت کي (۴۰ سلنه) تخفيف ورکړل سوی. تر څنګ ئې د ساده او زغره وال وسايطو ګمرکي تعرفه (۳۰٪) ته لوړه سوه. همدارنګه د وارداتي ګرځنديو وسايطو ته په لاندي ډول تخفيفونه په نظر کي نيول سوي دي: له (۲۰۰۵) ماډل څخه د کال تر ماډل (۲۰۲۵) پوري په قيمت کي (۳۰٪) تخفيف د پخوا په پرتله په نظر کي نيول سوی. د ماليې وزارت د ګمرکونو لوی رياست د بې اسناده موټرونو له مالکينو څخه غوښتنه کوي، چي له دې فرصت څخه ګټه واخلي او خپلو وسايطو ته قانوني سندونه جوړ کړي.

## د چنګاښ په مياشت کي د هيواد له ګمرکونو څخه (۱٦٦) ټانکره بې کيفيته نفتي مواد مسترد سوي دي





د ماليې وزارت د نفتي موادو د کيفيت او څارني رياست، چي د ټاکل سويو معيارونو له مخي هيواد ته د وارديدونکو نفتي موادو کيفيت معلوموي، د روان (۱۴۰۴ هـ.ل) کال د سرطان (چنګاښ) په مياشت کي ئې د هيواد له يو شمېر ګمرکونو څخه (۱٦٦) ټانکره وارديدونکي بې کيفيته نفتي مواد بيرته ګرځولي دي. د مسترد سويو نفتي موادو له ډلي (۱٦۱) ټانکره ډيزل او (۲) ټانکره پيټرول له نيمروز بندر څخه او (۳) ټانکره پيټرول له شبرغان بندر څخه بيرته ګرځول سوي دي. د يادولو ده، چي د ماليې وزارت د نفتي موادو د کيفيت او څارني رياست د ټاکل سويو معتبرو معيارونو له مخي، هيواد ته د لوړ کيفيت او معياري نفتي موادو د را وارداتو زمينه برابروي او د بې کيفته نفتي موادو له واردولو څخه په کلکه مخنيوی کوي.

## د تورخم په ګمرک کي د لوړ ټُناژ تله جوړه او ګټې اخيستني ته وسپارل سوه



ماليې وزارت له پراختيايې بوديجې څخه ورکول سوی او چاري ئې د يوه افغاني شرکت له لوري ترسره سوي دي.

د ګمرکونو لوی رياست د (۳،۵) ميليونه افغانيو په ارزښت د تورخم په ګمرک کي د وارداتي توکو د وزن معلومولو له پاره يوه پايه د لوړ ټُناژ تله جوړه او ګټې اخيستني ته وسپارله. ياده تله د (۲۲) متره اوږدوالي او (۳) متره پلن والي په درلودلو سره د (۱۲۰) ټنه وزن معلومولو وړتيا لري. د يادي تلي په جوړولو سره به د ملي عوايدو له ضايع کېدو او اضافه وزن څخه مخنيوی وسي او ترڅنګ به ئې د سوداګريزو توکو په ګمرکي طی مراحلو کي هم د پام وړ چټکتيا رامنځته سي. د يادوني وړ ده، چي د يادي پروژې لګښت د



**د ګمرکونو او عوايدو معينيت د اړوندو رياستونو ترمنځ د همغږۍ ناسته وسوه**

م ۲



**د هيواد په شپږو ګمرکونو کي امنيتي کېمرې نصب او ګټې اخيستني ته وسپارل سوې**

م ۲



**تېره اوونۍ د هيواد په بېلابېلو ولايتونو کي زياته اندازه قاچاقي توکي نيول سوي دي**

م ۲



**د مرکزي زون مستوفيت د (۵۰)تنو نويو ګمارل سويو کارکونکو له پاره په اماراتي ادارو کي د کابردۍ مديريت روزنيز پروګرام جوړ سو**

م ۲



**نقش تسهيل كننده هوش مصنوعی در آموزش و فرصت های شغلی برای نسل جوان افغانستان**

م ۳



**افغانستان د کانونو د تنظيم او اقتصادي ودي له پاره نوي تدابير نيولي دي**

م ٤

شتمني
SHTAMANI
اوونیزه

## تېره اوونۍ د هیواد په بېلابېلو ولایتونو کي زیاته اندازه قاچاقي توکي نیول سوي دي



د ماليې وزارت د گمرکونو لوی ریاست د ګرځنده څارني کارکوونکو تېره اوونۍ د هرات، کندهار، نیمروز، ننگرهار او هلمند ولایتونو په بېلابېلو سیمو کي په زیاته اندازه قاچاقي توکي نیولي دي، چي قاچاق کوونکو غوښتل له گمرکي محصول پرته ئې په قاچاقي ډول افغانستان ته وارد کړي. په نیول سویو توکو کي (۱۱۸۴۰) کیلو گرامه انساني او زراعتي طبي درمل، (۴۸۹۵) کیلو گرامه چاکلېټ، (۲۵۷۵) کیلو گرامه ملایي، (۱۰۷۸) کیلو گرامه رخت، (۱۳۲۰) کیلو گرامه می/ ماش، (۶۲۵) کیلو گرامه خام نخود، (۳۰۰) کیلو گرامه پلاسټیک، (۳۲۴) کیلو گرامه بیسکوټ، (۳۶۰) کیلو گرامه کیچپ، (۲۰۴) کیلو گرامه خوراکي پوډر، (۱۶۲) کیلو گرامه د چلم مېوه، (۱۴۴) کیلو گرامه تمباکو، (۹۹۰) کیلو گرامه پنیر او (۴۰) کیلو گرامه نوې البسه شامله ده. نیول سوي توکي او تورن کسان د نورو اجراآتو له پاره اړوندو گمرکونو ته سپارل سوي دي. د یادوني وړ ده، چي د ماليې وزارت د ګرځنده څارني کارکوونکي په ټول هیواد کي ګرځنده څارنه کوي او هیچا ته اجازه نه ورکوي، چي ممنوعه او قاچاقي توکي ولېږدوي.

## برنامه آموزشی برای کارمندان مستوفیت ولایت قندز آغاز گردید

به ادامه برنامه های آموزشی مطابق پلان تدریسی اکادمی ملی عواید و گمرکات وزارت مالیه این بار برنامه آموزشی (۲۳) روزه برای کارمندان بخش عواید مستوفیت ولایت قندز آغاز گردید. در این برنامه (۵۰) تن کارمند اشتراک دارد، که طی آن قوانین مالیاتی، سیستم سیگتاس و سایر موارد مرتبط توسط اساتید مجرب برای شرکت کنندگان تشریح و تدریس میگردد. قابل ذکر است که با دایر نمودن این برنامه، توانایی کارمندان متذکره ارتقا یافته و شفافیت و پیشرفت قابل ملاحظه یی در پروسه های کاری ایجاد خواهد گردید.

## د آقینې او کندهار سرحدي گمرکونو کارکوونکو ته روزنیز پروگرامونه پیل سول

د ماليې وزارت د گمرکونو او عوایدو ملي اکاډمۍ له تدریسي پلان سره سم د آقینې او کندهار سرحدي گمرکونو کارکوونکو ته یو میاشتني روزنیز پروگرامونه پیل سول. په دغو روزنیزو پروگرامونو کي له آقینې گمرک څخه (۶۰) تنو او د کندهار له سرحدي گمرک څخه (۳۵) تنو گډون کړی، چي په لړ کي به ئې گډونوالو ته گمرکي قوانین، طرزالعملونه، فورمونه او اړوند نور مسایل په عملي او نظري ډول تشرېح او تدریس سي. د یادوني ده، چي د دغو پروگرامونو په ترسراوي سره به د یادو کارکوونکو وړتیاوي لوړي او په کاري پروسو کي به د پام وړ روڼتیا او پرمختګونه رامنځته سي.

## د گمرکونو او عوایدو معینیت د اړوندو ریاستونو ترمنځ د همغږۍ ناسته وسوه

د گمرکونو او عوایدو معین الحاج مفتي عبدالمتین سعید په مشرۍ د دغه معینیت د ریاستونو ترمنځ د (۱۴۰۴) کال د همغږۍ پنځمه ناسته د یاد معینیت د غونډو په تالار کي وسوه. په دې ناسته کي چي د یادو ریاستونو مسئولینو گډون کړی وو، په پیل کي د گمرکونو او عوایدو معین گډونوالو ته د ښه راغلاست ترڅنګ له اړوندو امارتي ادارو سره د چارو د ښه والي په موخه د لازمي همغږۍ رامنځته کولو، د ملي عوایدو زیاتولو او هیوادوالو ته د لازمو اسانتیاوو رامنځته کولو په برخه کي مسئولینو ته سپارښتني وکړې. ورپسې د عوایدو لوی ریاست ته د کنټرول او کیفیت ریاست د عوایدو د لېږد په اړه د ټاکل سوي پلاوي راپور وړاندي او پر دې سربېره د کارگو شرکتونو د بررسۍ پر څرنګوالي، د ټرانزیټي او بار وړونکو شرکتونو پر باقیاتو، د هیواد په هغو سیمو کي، چي بانکي خدمات نه لري د ماليې د اخیستلو پر څرنګوالي او یو شمېر نورو اړینو موضوعات بحث او لازمي پرېکړي وسوې. د یادوني وړ ده، چي دغه ناستي د گمرکونو او عوایدو معینیت د اړوندو ریاستونو ترمنځ د لا همغږۍ په موخه جوړېږي، چي ورته ناستي به په راتلونکي کي هم دوام ولري.




## د هیواد په شپږو گمرکونو کي امنیتي کېمرې نصب او گټې اخیستني ته وسپارل سوې

د ماليې وزارت د گمرکونو لوی ریاست له لوري د تورخم، ډنډپټان، خوست، غلام خان بندر، د نیمروز ولایت بندر والی او د گمرکونو لوی ریاست د لابراتوار په څانګه کي (۲۱۵) امنیتي کېمرې نصب او فعالي کړې. د یادو امنیتي کېمرو په نصبېدو سره به د امنیتي مسایلو ترڅنګ د گمرکي سرغړونو او د پېښو د مخنیوي په برخو کي هم د پام وړ مثبت بدلون رامنځته سي. دا کېمرې د یادو گمرکونو په بېلابېلو برخو کي نصب سوي دي، چي په نیږدې راتلونکي کي به له پلازمېني کابل سره هم ونښلول سي. د یادوني وړ ده، چي څه موده وړاندي د اسلام کلا او تورغونډۍ په سرحدي گمرکونو کي هم ورته امنیتي کېمرې نصب او فعالي سوي وې.




## د مرکزي زون مستوفیت د (۵۰ ) تنو نویو گمارل سویو کارکونکو له پاره په اماراتي ادارو کي د کابردۍ مدیریت روزنیز پروگرام جوړ سو

د ماليې وزارت د کارکوونکو چارو ریاست د مرکزي زون د مستوفیانو (۵۰) تنو نویو گمارل سویو کارکوونکو له پاره په اماراتي ادارو کي د کاربردۍ مدیریت روزنیز پروگرام جوړ کړ. په همدې مناسبت جوړه سوې غونډه کي، چي د دغه وزارت د اداري معینیت د کنفرانسونو په تالار کي جوړه سوې وه، اداري معین مولوي دوست محمد مخلص، د دعوت او ارشاد رئیس مولوي عبدالهادي سیف الخالد او د استخدام آمر مفتي نیاز محمد منصور گډون کړی وو. د استخدام آمر په خپله پرانیستې وینا کي وویل، چي دا پروگرام ستاسو د وړتیا لوړولو له پاره جوړ سوی دئ. په دې پروگرام کي به تاسو په عملي توګه کارونه زده کوئ. عملي کارونه تاسو ته اجازه درکوي، چي د مفاهیمو ژوره پوهه ولرئ او د اصلي دندو ترسره کولو له پاره اړین مهارتونه زده کړئ، چي ستاسو سره به د دندو په ترسره کولو کي مرسته وکړي. اداري معین په خپلو خبرو کي وویل، "د خپلو مسلکي مهارتونو د پراختیا له پاره له تر لاسه سوي فرصت څخه ګټه پورته کړئ. د غوره خدماتو وړاندي کولو له پاره د مسلکي پوهي او مهارتونو ترلاسه کول د اداري له خورا اړینو اړتیاوو څخه دي. نوموړي یادونه وکړه چي هر هغه څه، چي زده کوئ، نورو ته ئې هم انتقال کړئ. د دعوت او ارشاد رئیس وویل، "د خپلو آمرینو څخه اطاعت وکړئ او په خپلو دندو کي غفلت مه کوئ. الهی فرامین تطبیق کړئ او د حلالي روزۍ تر لاسه کولو له پاره هڅه وکړئ. له خلکو سره ښه چلند وکړئ او خپل ځانونه د اسلام د پیغمبر له سنتو سره سم برابر کړئ. د یادوني وړ ده، چي دا روزنیز پروگرام به (۱۰) ورځي دوام وکړي، چي په کښې به پلان جوړونه،ګزارش لیکل، مکتوب لیکل، استعلام او وړاندیز لیکنه، خبري او اړیکي، د بشري سرچینو مدیریت، ستراتیژیک مدیریت او نور مهم او اړوند موضوعات گډونوالو ته تشرېح او روزنه ورکړل سي.



## د عوایدو لوی ریاست او د روغتونونو اتحادیې ترمنځ د مالیاتي ستونزو د حل په موخه ناسته وسوه

د عوایدو او گمرکونو معین الحاج مفتي عبدالمتین سعید په مشرۍ، د عوایدو لوی ریاست او د روغتونونو اتحادیې ترمنځ د مالیاتي ستونزو د حل په موخه ناسته د دغه معینیت د غونډو په تالار کي وسوه. په دې ناسته کي د عوایدو لوی رئیس، عملیاتي مرستیال، د حقوقي خدمتونو او پالیسۍ رئیس، د مالیه ورکوونکو د خدمتونو وړاندي کولو رئیس او د روغتونونو اتحادیې استازو گډون کړی وو. د عوایدو او گمرکونو معین الحاج مفتي عبدالمتین سعید په پیل کي پر ملي گټو، امنیت، پرمختګ او همدارنګه د طبي خدماتو پر ارزښت خبري وکړې او دوی ته ئې د هغو ډاکټرانو د مالیاتي ستونزو په اړه لارښووني وکړې، چي له رسمیاتو پرته په روغتونونو کي عملیات ترسره کوي. په ناسته کي د روغتونونو اتحادیې ته وړاندیز وسو، چي د یادي ستونزي د حل له پاره ، یوه طرحه د عوایدو لوی ریاست ته وسپاري؛ تر څو دا طرحه د مسلکي کمېټې له خوا و ارزول سي او یوه مناسبه حل لاره ورته وټاکله سي. همداراز د اتحادیې استازو خپلي ستونزي او وړاندیزونه شریک کړل او د عوایدو لوی ریاست مسئولینو له لوري ورته د حل ډاډ ورکړل سو.



SHTAMANI اوونیزه

# نقش تسهیل کننده هوش مصنوعی در آموزش و فرصت های شغلی برای نسل جوان افغانستان

عبدالبصیر عمر شاه خیل
محقق دکتورای اقتصاد و تجارت بین الملل

**مقدمه**


یکی از اساسی‌ترین حقوق بشر، دسترسی به آموزش است. استفاده از تکنالوژی، به ویژه هوش مصنوعی (Artificial Intelligence)، راه های عملی را برای حمایت از آموزش و فرصت های کار آفرینی بیشتر به نسل جوان افغانستان بخصوص آن عده جوانانی که در اطراف و دور تر از مراکز آموزشی رسمی زندگی میکنند فراهم میاورد. از آنجایی که در افغانستان سیستم آموزشی با معیار های جهانی پیشرفته و کفایت کننده هنوز موجود نیست و همچنان زیر ساخت های تکنالوژی پیشرفته به اندازه کافی نمیباشد، هوش مصنوعی فرصت‌های بی‌سابقه ای را در زمینه آموزش و کار ارائه می‌دهد. در این نوشته کوتاه به بررسی هوش مصنوعی و نقش بالقوه آن در تعیین فرصت های آینده آموزش، کار و تجارت پایدار می پردازیم.

موضوع هوش مصنوعی (AI) که از اوایل دهه (۱۹٥۰) توجه را به خود جلب کرد، تأثیر جهانی پیدا کرد. این موضوع در سال های اخیر به میزان بی‌سابقه ای پیشرفت کرده است و اکنون در دستور کار محافل اروپایی و بین‌المللی و همچنین جامعه علمی قرار دارد. این موضوع به عنوان یک موضوع استراتژیک با تأثیرات کوتاه مدت، میان مدت و بلند مدت قابل توجه دیده می‌شود. هوش مصنوعی در آموزش و پرورش در سال های اخیر به عنوان راهی برای افزایش یادگیری فردی و سازگاری با خواسته های بازار کار و واقعیت جدید، محبوبیت پیدا کرده است. (APOLZAN & Jeana, ۲۰۲٤)

هوش مصنوعی (AI) در حال متحول کردن چشم انداز جهانی آموزش و اشتغال است. هوش مصنوعی (AI) یکی از مهمترین پیشرفت های تکنالوژی قرن بیست و یکم است که تأثیر گسترده ای بر بخش‌های مختلف، از جمله آموزش و کار داشته است. هوش مصنوعی به ابزاری حیاتی برای بهبود بهره وری، کاهش هزینه ها و تجزیه و تحلیل دقیق داده ها در هر زمینه ای، به ویژه آموزش و تجارت، تبدیل شده است. با این حال، این تکنالوژی جدید مزایا و معایبی دارد که باید به طور جامع بررسی شوند. پیشرفت های سریع در ابزارهای هوش مصنوعی منجر به تغییرات قابل توجهی در نحوه عملکرد مؤسسات آموزشی و تجارتی شده است. هوش مصنوعی فرصت بالقوه تسهیل یادگیری، بهبود کارایی، بهینه سازی منابع و کاهش اثرات محیط زیستی را دارد و به پایداری بلند مدت کمک می‌کند.

در دوره ای از پیشرفت سریع تکنالوژی، هوش مصنوعی (AI) تقریباً در تمام جنبه های زندگی معاصر نفوذ کرده، صنایع را متحول کرده و معیار های اجتماعی را از نو تعریف کرده است. تکنالوژی های هوش مصنوعی قوی و آرمانی برای ارتقای اهداف آموزشی هستند. (Kumar & Baidya, ۲۰۲٤)

استفاده از هوش مصنوعی با مزایا و خطرات زیادی همراه است. می‌توان آن را به زینه ای برای بالا رفتن یا دری برای سقوط تبدیل کرد.



در هر موقعیتی که پیش می‌آید، نحوه ی درک ما از آن موقعیت و همچنین نحوه‌ی رفتار و عملکرد ما در قبال آن پدیده، تأثیر زیادی بر ماهیت و کیفیت نتیجه خواهد داشت. (Zahedi, ۲۰۲٤)

از جمله ابزارهای آموزشی هوش مصنوعی مورد استفاده در کار و آموزش در افغانستان می‌توان به موارد زیر اشاره کرد:

۱. پلتفارم هایی برای یادگیری شخصی‌سازی‌شده.
۲. سیستم‌های آموزشی هوشمند.
۳. اپلیکیشن‌های آموزش زبان.
٤. آزمایشگاه های مجازی.
٥. خدمات شغلی.

افغانستان دهه ها جنگ، سرمایه‌گذاری ناکافی در آموزش و بیکاری بالای جوانان را تجربه کرده است. با این حال، ابزارهای دیجیتال و سیستم های هوش مصنوعی در حال جلب توجه در بین دانشجویان، فریلنسرها (آزاد پیشه ها) و کارآفرینان افغانستان هستند. از جمله مهمترین مزایا و معایب هوش مصنوعی در کار و آموزش، می‌توانیم موارد زیر را ذکر کنیم:

**الف- مزایا**

۱. هوش مصنوعی آموزش را شخصی‌سازی می‌کند.
۲. هوش مصنوعی آموزش ۲۴ ساعته ارائه می‌دهد.
۳. هوش مصنوعی محتوای آموزشی هوشمند ارائه می‌دهد.
٤. هوش مصنوعی وظایف را برای معلمان و مدیران خودکار می‌کند.
٥. هوش مصنوعی دسترسی و عدالت در آموزش را بهبود می‌بخشد.
٦. هوش مصنوعی به از بین بردن شکاف‌های مهارتی در آموزش کمک می‌کند.
۷. هوش مصنوعی بازخورد مبتنی بر داده را برای دانش‌آموزان ارائه می‌دهد.
۸. هوش مصنوعی دارای سیستم های یادگیری امن برای حفظ حریم خصوصی داده ها است.
۹. مشارکت فارغ التحصیلان.
۱۰. یادگیری زبان.
۱۱. تشخیص سرقت ادبی.
۱۲. ویژگی‌های قابل دسترسی.
۱۳. تحقیق در آموزش و پرورش.
۱٤. کمک معلم.

ادامه در شماره بعدی


# اعلانات داوطلبی

## اعلان داوطلبی

ریاست عمومی املاک امارتی وزارت مالیه ٤ باب دوکان مدینه مارکیت،۲ باب دوکان ظاهر شاهی مارکیت واقع مندوی کابل مربوط ناحیه اول و ۳ باب دوکان واقع نظیف مارکیت کوته سنگی مربوط ناحیه پنجم را به شکل آفر سر بسته طور جداگانه به اعلان داوطلبی می سپارد، مدت ( ۱) سال.
۱. دوکان نمبر ٥۹ به مساحت ۱۰,۲۰مترمربع واقع مندوی کابل مدینه مارکیت مربوط ناحیه اول شهر کابل به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ ( ۸٥۰۰۰) افغانی.
۲. دوکان نمبر ۷۲ به مساحت۱۰,۱۸مترمربع واقع مندوی کابل مدینه مارکیت مربوط ناحیه اول شهر کابل به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ ( ٦۰۰۰۰ ) افغانی.
۳. دوکان نمبر ٤٥ به مساحت ۸,۱۰ مترمربع واقع مندوی کابل مدینه مارکیت مربوط ناحیه اول شهر کابل به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ ( ۸۸۸۹۱ ) افغانی.
٤.دوکان نمبر ۷۱ به مساحت۱۰,۱۸ مترمربع واقع مندوی کابل مدینه مارکیت مربوط ناحیه اول شهر کابل به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ (٦٥۰۰۰) افغانی.
کوردینات (جی.پی.اس نمبر) ٦۹,۱۷۷۲٤ ۳٤,٥۱۷٤۱
٥.دوکان نمبر۱۲٦به مساحت ٥,٥۱مترمربع واقع مندوی کابل ظاهر شاهی مارکیت مربوط ناحیه اول شهر کابل به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ ( ۱۷۷۰٤ ) افغانی.
٦. دوکان نمبر۱۱۸ به مساحت ٥,۷ مترمربع واقع مندوی کابل ظاهر شاهی مارکیت مربوط ناحیه اول شهر کابل به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ )۱۹۳۳۰) افغانی.
کوردینات (جی.پی.اس نمبر): ٦۹,۱۷۷٥٦ ۳٤,٥۱۷۱
۷. دوکان نمبرB-٤۸ به مساحت ۱٥مترمربع واقع نظیف مارکیت کوته سنگی مربوط ناحیه ٥ شهر کابل به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ (۲٥۱٥۰) افغانی.
کوردینات (جی.پی.اس نمبر) ٦۹,۱۷۷۲٤ ۳٤,٥۱۷٤۱
۸.دوکان نمبر ۹۰،۹۱،۹۲،۹۳ B- به مساحت ۷۲ مترمربع واقع نظیف مارکیت کوته سنگی مربوط ناحیه ٥ شهر کابل به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ ) ۲۱٦۷۰ ) افغانی.
۹.دوکان نمبرB-٦ به مساحت ۱۸ مترمربع واقع نظیف مارکیت کوته سنگی مربوط ناحیه ٥ شهر کابل به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ ( ۳٥٥۰۰ ) افغانی.
کوردینات (جی.پی.اس نمبر) ٦۹,۱۱۷٤٦ ۳٤,٥۱٥۲۷۲
اشخاص حقیقی و حکمی که خواهان به کرایه گرفتن دوکاکین فوق باشند میتوانند درخواست های شان را از تاریخ ۱۸/ اسد / ۱۴۰۴ الی ۳۱ / اسد/ ۱۴۰۴) به مدت (۱۴) روز به ریاست عمومی املاک امارتی واقع منزل چهارم تعمیر۱٤ منزله سینمای پامیر تسلیم نموده شرطنامه را اخذ نمایند.
آدرس :سینما پامیرتعمیر۱۴منزله،منزل٥، مدیریت عمومی ارزیابی قرار دادهای مرکز.
شماره تماس-۰۲۰۲۹۲٤٦۲٤-۰۲۰۲۹۲٤٦۰۷).
تاریخ مجلس داوطلبی اول / سنبله / ۱۴۰۴ ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر برگزار میگردد. آدرس: ریاست تدارکات، وزارت مالیه، پشتونستان وات، کابل، افغانستان
شماره تماس دفتر: ۰۲۰۲۹۲٤۱٥٦
آفرهای دیر رسیده و انترنتی پذیرفته نمی شود

## اعلان داوطلبی

## دعوت به داوطلبی

ریاست عمومی املاک امارتی وزارت مالیه دوکاکین ذیل واقع مندوی مدینه مارکیت مربوط ناحیه اول شهر کابل را به شکل آفر سربسته طور جداگانه به اعلان داوطلبی می سپارد. مدت(۱) سال.
۱.دوکان نمبر۲ به مساحت ۱٦مترمربع واقع مدینه مارکیت مربوط ناحیه اول شهر کابل به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ( ۷۲۱٦۰ ) افغانی.
۲. دوکان نمبر۳ به مساحت۱۳,٦۰مترمربع واقع مدینه مارکیت مربوط ناحیه اول شهر کابل به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ( ۲۹۰۰۰) افغانی.
۳. دوکان نمبر٤ به مساحت۲۲,۳۳ مترمربع واقع مدینه مارکیت مربوط ناحیه اول شهر کابل به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ( ۸٤۱۳۰ ) افغانی.
٤.دوکان نمبر٥ به مساحت۹ مترمربع واقع مدینه مارکیت مربوط ناحیه اول شهر کابل به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ( ۸۰۳۰۰ ) افغانی.
٥.دوکان نمبر٦ به مساحت۹,۳٦ مترمربع واقع مدینه مارکیت مربوط ناحیه اول شهر کابل به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ ( ۱۸۲۰۰ ) افغانی.
٦.دوکان نمبر۷ به مساحت ۹ مترمربع واقع مدینه مارکیت مربوط ناحیه اول شهر کابل به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ( ۲۱۰۰۰ ) افغانی.
۷. دوکان نمبر۸ به مساحت ۹,۳٦ مترمربع واقع مدینه مارکیت مربوط ناحیه اول شهر کابل به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ( ٥۰٥۰۰ ) افغانی.
۸.دوکان نمبر ۱۰ به مساحت۸,٦٤ مترمربع واقع مدینه مارکیت مربوط ناحیه اول شهر کابل به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ( ۱٤۰۰۰ ) افغانی.
۹.دوکان نمبر ۱۱ به مساحت۹ مترمربع واقع مدینه مارکیت مربوط ناحیه اول شهر کابل به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ(۱۸۰۰۰) افغانی.
۱۰.دوکان نمبر ۱۲ به مساحت۹ مترمربع واقع مدینه مارکیت مربوط ناحیه اول شهر کابل به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ(۲۸۰۰۰) افغانی.
۱۱.دوکان نمبر۱٤ به مساحت۹ مترمربع وقع مدینه مارکیت مربوط ناحیه اول شهر کابل به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ(۹۰۰۰۰) افغانی.
۱۲. دوکان نمبر۱٥ به مساحت۸,۲۸ مترمربع واقع مدینه مارکیت مربوط ناحیه اول شهر کابل به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ(۳۳۲۰۰) افغانی.
۱۳.دوکان نمبر۱۸ به مساحت۹,۲٥ مترمربع واقع مدینه مارکیت مربوط ناحیه اول شهر کابل به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ(٤٥٥۰۰) افغانی.
۱٤.دوکان نمبر۱۹ به مساحت۹,۲٥ مترمربع واقع مدینه مارکیت مربوط ناحیه اول شهر کابل به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ(۲۰۰۰۰) افغانی.
۱٥.دوکان نمبر ۲۰ به مساحت۱۱,٦٦مترمربع واقع مدینه مارکیت مربوط ناحیه اول شهر کابل به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ(۲٥٥۰۰) افغانی.
کوردینات(جی.پی.اس نمبر) ٦۹,۱۱۷٤٦ ۳٤,٥۱٥۲۷۲ . اشخاص حقیقی و حکمی که خواهان به کرایه گرفتن دوکاکین فوق باشند میتوانند درخواست های شان را از تاریخ ۱۸/ اسد / ۱۴۰۴ الی ۷ / سنبله/ ۱۴۰۴) به مدت (۲۱) روز به ریاست عمومی املاک امارتی واقع منزل چهارم تعمیر۱٤ منزله سینمای پامیر تسلیم نموده شرطنامه را اخذ نمایند.
آدرس :سینما پامیرتعمیر۱۴منزله،منزل٥، مدیریت عمومی ارزیابی قرار دادهای مرکز.
شماره تماس-۰۲۰۲۹۲٤٦۲٤-۰۲۰۲۹۲٤٦۰۷) .
تاریخ مجلس داوطلبی۸/ سنبله / ۱۴۰۴ ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر برگزار میگرد



SHTAMANI
اوونیزه
شتمنی

د امتیاز څښتن: د ماليې وزارت
مسئول مدير: احمد ولي حقمل
مرستيال: شمس الدين عاطف
د کتنپلاوي تر نظر لاندي

ویبسایټ: mof.gov.af
اېکسپانه: Afghanistan mof
یوټیوب: afghanistan mof
شمېره : ۰۲۰۲۹۲۴۴۴۰(+)

زموږ ماليه، زموږ هيواد، زموږ راتلونکی




# PM Office Approves MoF's Proposal About 'Extension of Registration, Excise Process for Undocumented RHT Vehicles

Based on the proposal of MoF and with the approval of the Prime Ministership of IEA (Islamic Republic of Afghanistan), the registration and excise process for undocumented RHT (Right-Hand Traffic - the driver usually sits on the left side of the car "LHD: Left-Hand Drive") vehicles, has been extended until the end of the year 1404 (Afghan calendar) according to the current procedure. The process has been commenced in seven zones of Afghanistan (Kabul, Herat, Balkh, Nangarhar, Kandahar, Kunduz and Khost/Paktia), and is ongoing normally. The current procedure for registering and excise for undocumented vehicles has taken into account the economic conditions of Afghans, and has considered ways to enable owners of undocumented vehicles to obtain documents for their vehicles. The following discounts have been given on excise for undocumented vehicles: 30% discount has been given in rate to vehicles (1990 – 2004) models - for six months from the date of issuance of the order, and no discounts will be given in the process thereafter. 40% discount has been given in rate to vehicles (2005 – 2025) models. In addition, the customs tariff on normal and armored vehicles has been increased to 30%. The following discounts have also been considered for imported high-speed vehicles: '30% discount has been considered in rate to vehicles (2005 – 2025) models, compared to the previous period'. The General Directorate of Customs of MoF urges owners of undocumented vehicles to take advantage of this opportunity, and obtain legal documents for their vehicles.

# MoF Returns 166 Tankers of Substandard Oil from Nimroz, Sherkhan Ports in 1M

The Directorate of Petroleum Products Quality and Supervision of MoF, which determines the quality of petroleum products imported into Afghanistan according to set standards, rejected 166 tankers of substandard petroleum products imported from numerous customs offices in the month of Saratan/ 1404 based on Afghan calendar (20/ Jun – 22/ July/ 2025). Of the returned petroleum products, 161 tankers of diesel and two tankers of gasoline were rejected from Nimroz Port, and three tankers of gasoline from Sherkhan Port. Noticeably, the 'Directorate of Petroleum Quality and Supervision' of MoF, in accordance with set and reliable standards, provides the opportunity for the import of high-quality and standard petroleum products into Afghanistan, and strictly prevents the import of substandard petroleum products.

# General Directorate of Customs Installs 215 Surveillance, Security Cameras at 6 Offices

The General Directorate of Customs of MoF has installed 215 security cameras in Torkham, Dandpatan, Khost Ghulam Khan Port, Nimroz Province's Bandarwali, and Laboratory Department of the General Directorate of Customs. "With the installation of these security cameras, in addition to security issues, significant and positive changes will be made in the areas of customs violations and incident prevention," officials stated. Security cameras have been installed at various parts of the aforementioned customs offices, which will also be connected to Kabul in the near future. It is worth noting that similar surveillance and security cameras were installed at the border customs offices of 'Islam Qala' and 'Torghundiy' previously.



نړيواله دريڅه

# افغانستان د کانونو د تنظيم او اقتصادي ودي له پاره نوي تدابير نيولي دي



د اني ـ ANI په نوم د هيندوستان خبري اژانس د افغانستان د کانو د استخراج د تنظيماتو او تدابيرو په تړاو راپور خپور کړی دئ. په دې راپور کې لومړی دا ټکی راغلي دئ، چي وايي د افغانستان اسلامي امارت د کانونو او پيټروليم وزرات د کانو د استخراج د معياريتوب او له غيرقانوني استخراج څخه د مخنيوي له پاره د ځانګړو پروګرامونو اعلان کړی دئ. د خبر متن د ياد وزارت د مسئولانو په حواله کاږي، چي له دې برنامو څخه موخه دا ده، چي پر کاري فرصتونو، د پانګي اچوني جلب، صنعتي ودي او د افغانستان پر ځان بسياينې باندي تمرکز وسي. د کانونو او پيټروليم وزرات د وياند، ښاغلي همايون افغان په حواله زياتوي، چي دا وزارت د کاري فرصتونو ايجاد، د پانګوني د جلب، اقتصادي ودي، په ټوله کي د افغانستان صنعتي پياوړتيا او د ملک ځان بسياينې ته ژمن دئ. په راپور کي نه يوازي دا چي د «کاري فرصتونو، اقتصادي ودي او د افغانستان د ځان بسياينې» په تړاو ټکي رانغښتل سوي دي؛ بلکي ښاغلي همايون صاحب يادي رسنۍ ته د غير قانوني استخراج او قاچاق د مخنيوي او په معياري ډول د زېرمو د استخراج خبره هم کړې ده. وايي وزارت د خامو موادو د پروسيس له پاره ټينګار کوي، چي په افغانستان دننه کي ترسره سي ــ نه دا چي استخراجي ماديات د صادراتو په بڼه بهرنيو هيوادونو ته صادر سي. خبر ته يوه کارپوه هم دا خبره واضح کړې ده، چي وايي کاني پروسيس دي دلې په افغانستان کي صورت و نيسي، هغه وايي: «پانګوال ملک توپير نه لري، که هغه اُزبکستان، چين او يا هم روسيه وي. مطلب دا چي د کاني زېرمو پروسيس دي په هيواد دننه کي وي؛ تر څو ځوانانو ته د کار زمينه مساعده سي.» د اني خبري رسنۍ وروستۍ برخه د قراردادونو په تړاو ده او په هکله ئې د ښاغلي همايون خبري داسي علاوه کوي: «موږ هغو کمپنيو ته استخراجي قرارداد ور کوو، چي ټيکنالوژيکي ظرفيت، کافي مالي سرچينې او عملي ژمنتيا و لري.»


## د شکايتونو اورېدلو آمريت ستاسو ستونزو او شکايتونو ته رسېدنه کوي

هر هيوادوال، چي د ماليې وزارت د اړوند چارو په تړاو ستونزه يا شکايت ولري، کولای سي، چي د دغه وزارت د شکايتونو اورېدلو له آمريت سره ئې په حضوري بڼه او يا د لاندي ادرسونو له لاري شريک کړي.
ټيليفون او وټس اپ شمېرې: ۰۲۰۲۹۲۴۲۳۳ / ۰۲۰۲۹۲٤۱۹۰ / ۰۷۴۵۷٦۵۷۵٦ (+۹۳)
برېښناليک: officialcomplaints@mof.gov.af



## د ماليې وزارت د گمرکونو لوی رياست تل ستاسو په خدمت کي دئ!

که تاسو د گمرکونو په هکله هر ډول معلوماتو ته اړتيا لرئ او د کومي ستونزي حل او يا شکايت را رسول غواړئ؛ نو مهرباني وکړئ له موږ سره په لاندي شمېره اړيکه ونيسئ!
اړيکه: ۲۲۱

## رياست عمومی گمرکات وزارت ماليه هميشه در خدمت شماست!

اگر شما در مورد گمرکات به هر نوع معلومات نياز داريد و يا ميخواهيد مشکل تان حل و شکايت تانرا به سمع ما برسانيد، ميتوانيد به شماره ذيل با ما در تماس شويد!
تماس: ۲۲۱



شتمني اوونيزه د ټولو قدرمنو لوستونکو د مقالو منونکې ده؛ مقالې بايد اقتصادي او د ماليې وزارت له اصولو سره سمي وي. له ټولو درنو همکارانو او د هيواد له ليکوالو څخه هيله کوو، چي خپلي مقالې د دغه برېښناليک tamas@mof.gov.af له لاري موږ ته راواستوي.